AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۱۰/۰۲

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(شپږدېرشمه برخه)



(د آی‌ایس‌آی رئیس، ډګرجنرال فیض حمید د کابل په سیرینا هوټل کې
د چای څښلو د تاریخجوړونکي پیالي په حال کې)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۳۲)**

**له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۵)**

**د افغانستان د جمهوریت سقوط، د امارت راتلل، د پاکستان خوښي او پېښماني**

د جنرال قمر جاوېد باجوه د دندې پر مهال تر ټول مهم بدلون د ۲۰۲۱ز. کال په اګست کې، له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو تېښته او د جمهوریت سقوط ؤ چې یوه ورځ وروسته د جمهوریت ځای اسلامي امارت ونیو.
پر کابل د طالبانو د واکمنۍ وروسته، جنرال باجوه او نورو لوړپوړو پاکستانیو چارواکو غبرګونونه ظاهراً محتاطانه وو خو په ستراتیژیکه توګه له خوښۍ او ډیپلوماتیک ملاتړه ډک وو.
جنرال باجوه په خپلو لومړنیو ویناوو کې ټینګار وکړ چې نړیواله ټولنه دی له طالبانو سره مالي او ډیپلوماتیک تعامل وساتي ترڅو په افغانستان کې د بشري ناورین مخنیوی وشي.
بلې خوا جنرال باجوه وویل چې موږ له طالبانو تمه لرو، د ښځو او بشري حقونو په اړه نړیوالي ټولنې ته خپلې ورکړل شوې ژمنې پوره کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستاني پوځ او جنرال باجوه فکر کړی ؤ چي کله له خیره سره افغان طالبان پر افغانستان واکمن شي نو په پاکستان کي به د ټيټيپي وسلهوالو مخه هم ونیسي.

طالبان چي پر کابل واکمن شول، پاکستانیو استخباراتو د ټيټيپي مرستیال مولوی **(فقیر محمد)** او د ټيټيپي د هغو کسانو غوښتنه وکړه چي د جمهوریت پر مهال په افغانستان کي بندیان وو، افغان طالبانو (لکه څرنګه چي ولسمشر حامد کرزي پاکستان ته د مولوي فقیر محمد له سپارلو ډډه کړي وه) د نوموړي مولوي او د ټيټيپي له نورو غړو له سپارلو ډډه وکړه.[1]

افغان طالبانو د پاکستان او ټيټيپي تر منځ د سولي خبرو وړاندیز وکړ چي په دې توګه یي پاکستاني استخبارات تېر ایستل. خبره هله لاپسي ورانه او سرچپه شوه چي په کابل کي مولوی فقیر محمد په ډاګه وویل:**«دا نه شی کیدی چي په افغانستان کي اسلامي نظام او شریعت وي او په پاکستان کي دې د انګرېزانو جوړ شوی قانون او نظام وي.» هغه زیاته کړه چي په پاکستان کي به زموږ جهاد د شریعت تر نفاذ پورې جاري وي.**

هغه وو چي د جنرال باجوه پوځي ملاتړونی (کمربند) سست شو نو «په پرلهپسي توګه یي د طالبانو له مشرانو غوښتني پيل کړې چي افغان طالبان دې ټيټيپي ډلي ته اجازه نه ورکوي د افغانستان خاوره د پاکستان یا کوم بل هېواد پر ضد وکاروي.»

د پاکستان د هغه مهال لومړی وزیر عمران خان چي له امریکایانو سره وران ؤ، د نوموړي غبرګون بیا تر ټولو توند او پیغور ورکونکی ؤ، عمران خان په خپله یوه وینا کي وویل چي **افغانانو د طالبانو په راتګ سره د غلامی ځنځیرونه مات کړل،** عمران خان د زړه له کومي د طالبانو د حکومت د رسمیت پېژندلو لپاره نړیوال کمپاین پيل کړ.[2]

## د کابل په سیرینا هوټل کي د آیاېسآی رئیس، جنرال فیض حمید، د چای تاریخجوړونکی پیاله:

جنرال باجوه د جمهوریت له سقوط څو ورځي وروسته، د ۲۰۲۱ز. کال، د سپتمبر په ۴مه نېټه، د پاکستان د آیاېسآی رئیس جنرال **(فیض حمید)** کابل ته ولیږه. د نړیوالو باوري رسینو پر بنسټ، د جنرال فیض حمید سفر څو موخي لرلي چي یوه یي د افغان طالبان، ملاعبداغني برادر (د دوحي ډله) او حقاني ډلي ترمنځ د ټاکنو او د واک د وېش پر سر د جدي اختلافاتو هوارول وو.[3] د فیض حمید تر سفر درې ورځي وروسته، د طالبانو سرپرسته کابینه اعلان شوه.[4]

سربېره پر دې، د جنرال حمید بله موخه دا وه چي د افغانستان خاوره دې د پاکستاني طالبانو (TTP) او نورو وسلهوالو ډلو لهخوا د پاکستان خلاف ونه کارول شي.

هغه له افغان چارواکو وغوښتل چي د ډیورنډ کرښي د امنیت، [د دوی په خبره] د سرحدي مدیریت په برخه کي دې مرسته وکړي ترڅو د ناقانونه تګ راتګ مخنیوی وشي.[5]

---

[1]:https://www.facebook.com/watch/?v=4936578136357965
[2]:https://www.dawn.com/news/1737816
[3]https://www.facebook.com/8am.media/posts/in-early-september-2021-general-faiz-hameed-the-former-head-of-pakistans-inter-s/656774769825576:/
[4]:https://www.news18.com/news/world/decoding-pakistan-isi-chief-faizhameeds-kabul-visit-ahead-of-afghan-govt-formation-4180292.html
[5]:https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/pakistan-s-intelligence-chief-visits-afghanistan-s-capital/2355359


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

دا مهال چې د جمهوریت له سقوط او د اګسټ له ۱۵مه نیټې وروسته ګڼ شمېر بهرنیان او افغانان له کابله د وتو په حال کې وو. جنرال فیض د دغو کسانو د خوندیتوب او د پاکستان له لارې د هغوی د ترانزیټ د مېکانېزم پر جوړولو خبرې وکړې[6].
کابل ته د پاکسان د آی‌اېس‌آی رئیس فیض حمید راتلل او له افغان طالبانو داسې غوښتنې چې په حقیقت کې طالبان د دغو ټولو غوښتنو مخالف وو خو پاکستانیانو هماغه ۳۰کاله پخواني خوبونه لیدل چې د ۱۹۹۲ز. کال د اپریل په ۲۸مه نېټه، کله چې د ډاکټر نجیب‌الله حکومت سقوط وکړ نو یوه ورځ وروسته د پاکستان لومړی وزیر **(نواز شریف)** او د آی‌اېس‌آی رئیس جنرال **(جاوېد ناصر)** کابل ته راغلل. د آی‌اېس‌آی رئیس جاوېد ناصر چې په پېښور کې د جهادي تنظیمونو تر منځ **(د پېښور هوکړه)** منتظم ؤ او د تنظیمونو پر مشرانو یې منلې وه، د صبغت الله مجددي د دوه میاشتني حکومت د ځای‌پرځای کولو او وروسته د برهان الدین رباني د حکومت او د ګلبدین حکمتیار ترمنځ په نښتو کې مخامخ ښکېل ؤ.
د یادولو ده چې کله له دوو میاشتو وروسته مجددي، برهان‌الدین رباني ته حکومت وسپاره، **رباني د آی‌اېس‌آی پخوانی مشر جنرال (حمیدګل) ته بلنه ورکړه او د یو فرمان په ترڅ کې یې د خان د سترسلاکار په توګه وټاکه** نو څه ډول به چې د آی‌اېس‌آی مشرانو ورته غږاوه، هماغه شان به د تنظیمو مشران، په ځانګړې توګه استاد رباني او د هغه مهال دفاع وزیر احمد شاه مسعود ورته نڅېدل.[7]

پاکستاني چارواکي خوشاله وو چې په افغانستان کې د طالبانو دویم امارت چې د دوی د اوږدمهالو مرستو په پایله کې رامنځ شوی ؤ، د دوی یو لاس‌پوڅی او بهرنی ستراتیژیک هیواد دی، له دې وروسته څه چې دوی غواړي طالبان به یې هرومرو ورسره مني خو پاکستانیانو چې کوم خوبونه لیدلي وو تول سرچپه وختل، **له افغان طالبانو سره د پاکستان مرستې داسې مثال لري لکه په یو پردي خره چې سپور شي او خپلې موخې ته ځان پرې ورسوي، بیا یې په هماغه شاوخوا کې لیوانو ته وشړي.**
اوس نو پاکستاني جنرالان او چارواکي، په ځانګړې توګه د آی‌اېس‌آی شیطاني اداري مشران چې په خپلو کړو پښېمان او د مچ غوندې د افسوس لاسونه موږي وايي چې د دې پر ځای چې موږ له طالبانو اوږ‌مهالي ګټه اخیستې وای، له موږ څخه یې ګټه پورته کړه.
جنرال پرویز مشرف په خپل کتاب (د اور پر لیکه) کې په ډېرې خواشینۍ سره لیکي چې له موږ څخه طالبانو ګټه پورته کړه او موږ یې د خپل ځان په ګټه استعمال کړو:
«... خو زموږ لویه او بې‌ساري تېروتنه دا وه چې موږ دا هېر کړي وو، کله چې موږ خلک تنظیموو او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یې په فوق‌العاده مذهبي او اعتقادي احساساتو سمبالوو، ښایي دا خلک خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره له موږ څخه هم ګټه پورته کړي، کېدای شي د تاکتیکي لاملونو له امله د لنډې مودې لپاره ځانونه زموږ په واک کې راکړي. له موږ سره د نږدې کېدو لپاره د **(ملا عمر)** داستان دا ؤ چې په افغانستان کې واک ترلاسه کړي... **په داسې شرایطو کې مالومه نه ده چې څوک استعمالیږي او کوم کسان څوک کاروي؟ موږ، امریکا، سعودي عربستان او هغو ټولو هیوادونو چې د افغانستان په جهاد کې یې مرسته کړې وه، د ځان لپاره مو یوه خطرناکه بلا (هیولا) جوړه کړه.»**[8]

---

[6]:https://www.dawn.com/news/1644463
[7]: د ډېرو مالوماتو لپاره، د دې قلم لیکنه:(اتلان پېژنئ؟) ۲یمه برخه، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې ولولئ.
[8]: پرویز مشرف: درخط آتش. فارسي ژباړه د سید هارون یونسي. ۳۲۵مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

جنرال مشرف له طالبانو خپل ملاتړ توجیه کوي او خپله پېښماني هم څرګندوي:«زموږ په دې مقاصدو کې څه نیمګړتیا نه وه، پرته له دې چې **موږ نه پوهېدو کله چې طالبانو له موږ څخه ګټه پورته کړه او واک ته ورسیدل، موږ به پر هغو خپل نفوذ له لاسه ورکړو.»**[9]

جنرال حمید چې په کابل کې تر دې کچې ډادمن ښکارېده چې (تا به وې کابل پنجابیانو فتحه کړی دی) هغه وو چې له جنرال حیمد څخه د کابل په سیرینا هوټل کې یو بهرني خبریال، د افغانستان د راتلونکي په اړه وپوښتل، **هغه په داسې حال کې چې د چای پیاله یې په لاس کې وه او مسکی ؤ، په پوره ډاډ یې وویل:«اندېښنه مه کوئ، هر څه به سم شي.»** د جنرال فیض حمید وینا چې (هر څه به سم شي) سم نه شول بلکې هر څه ناسم شول.

په کابل کې د جنرال فیض حمید د چای پیاله، د پاکستان او د ده لپاره د زهرو په پیاله بدله شوه، د آیاېس‌آی رئیس چې ځان ډېر پیاوړی او هوښیار ورته برېښېده، داسې وښویده چې هم یې پاکستان د مرګ کندې ته ورساوه او هم په خپله د ۱۴کلونو لپاره په زندان کې پرېوت.

په لومړیو کې د جنرال فیض حمید د چای هغه پیاله د پاکستان د پوځي بریا او په افغانستان کې د پاکستان لپاره د ستراتیژیکي پراختیا (Strategic Depth) د ترلاسه کولو سمبول ګڼل کېده خو لږه موده وروسته د کابل او اسلام‌آباد ترمنځ د اړیکو په خرابیدو سره دا خیال د پاکستان د یوې لویې سیاسي او استخباراتي تېروتنې په توګه یادېږي.

د پاکستانیو چارواکو په وینا، د فیض حمید دا سفر او له طالبانو سره د هغه کړه وړه د دې لامل شول چې د تي‌ټي‌پي په زرګونو وسله‌وال بېرته پاکستان ته ستانه شي او په هېواد کې د ناامنیو نوې څپه رامنځ ته کړي.

د پاکستان لوړپوړو چارواکو، په ځانګړي توګه د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر **(اسحاق ډار)** خو ځله پارلمان او رسنیو ته وویل چې پاکستان هغه مهال د طالبانو حکومت په اړه مثبت انځور وړاندې کړ، داسې چې ګواکې موږ کابل ته د یوې پیالي چای څښلو لپاره راغلي یو. **خو هغه یوه پیاله چای د پاکستان لپاره ډېره ګرانه تمامه شوه.**

اسحاق ډار دا هم وویل چې دغې یوې پیالي چای تولي پولي پرانستلې، تر دې چې ۴۰-۵۰زره یاغي طالبان (چې افغانستان ته تښتیدلي وو) پاکستان ته راوګرځیدل.[10]

د پاکستان د آی‌اېس‌آی پخواني مشر او د پېښور د ۱۱مې قول‌اردو قوماندان، جنرال فیض حمید، د ۲۰۲۲ز. کال د مي په ۱۶مه نېټه یو ځل بیا په ناڅاپي توګه له ټي‌ټي‌پي سره د سولې خبرو په موخه کابل ته سفر وکړ. د دغو خبرو کوربه‌توب د افغان طالبانو د کورنیو چارو وزارت (سراج الدین حقاني) کاوه.[11] د خبرو پایله لنډمهالي اوربند ؤ خو وروسته اوربند مات شو.

---

[9]: پرویز مشرف: درخط آتش. فارسي ژباړه د سید هارون یونسي. ۳۲۵مخ

[10]: https://www.bbc.com/dari/articles/cly9z037j0ro

[11]:https://www.khaama.com/former-director-general-of-isi-reaches-kabul-for-the-talks-with-pakistani-taliban56734/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال فیض حمید د ۲۰۲۴ز. کال په اګست کې د پاکستان د پوځ لخوا ونیول شو. نوموړی په پوځي محکمه کې په بېلابېلو جرمونو:**(له واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه او په سیاسي چارو کې مداخله)** باندي محاکمه او په ۱۴ کاله بند محکوم شو. په ټولنیزو رسنیو کې د هغه له محکومیدو وروسته، یو ځل بیا په کابل کې د چای څښلو خبره توده شوه چې خلکو په ملنډو سره وویل:**«په کابل کې د یوې پیالې چای بیه په ۱۴ کاله زندان ورته تمامه شو.»**

۲۰۲۲ز. کال چې د جنرال باجوه د دندې وروستی کال ؤ، په پاکستان کې د ټيټيپي بریدونه پراخ شول، پاکستانی پوځ چې د ټيټيپي د بریدونو په مخنیوي کې پاتې راغلي ؤ نو پړه یې د افغانستان پر اسلامي امارت اچوله چې **ولې افغان طالبان په پاکستان کې د ټيټيپي د بریدونو مخه نه نیسي!** **هغه وو چې د همدې کال په اپریل کې د پاکستان جګړه‌بیزو جېټ الوتکو په خوست او کنړ ولایتونو کې بمبارۍ وکړې چې له امله یې د ښځو ماشومانو په ګډون له ۴۵ ډېر عام افغانان ووژل شول.**

بله دا چې جنرال باجوه د دې لپاره چې پر افغان طالبانو فشار راوړي، په پاکستان کې مېشت افغان کډوال (چې لسګونه کلونه هلته اوسیدلي وو) په زور او بې‌عزتی سره وایستل شول. سره له دې چې د افغان کډوالو سیستماتیک ایستل د پاکستان پوځي مشر جنرال **(عاصم منیر)** او د لنډمهالي لومړي وزیر **(انوار الحق کاکړ)** د حکومت پر مهال پیل شول خو د جنرال باجوه په دوره کې کله به چې په پاکستان کې د ننه کومه چاودنه یا وسلهوال برید وشو نو پاکستانیو پولیسو به په کراچۍ، پېښور، اسلام‌آباد او نورو سیمو کې، **له یوې مخې بې‌اسناده او اسنادلرونکو افغان کډوالو په نیولو، شکنجه‌کولو او شړلو لاس پورې کړ.**

## د هند او پاکستان ترمنځ نښتې:

د جنرال باجوه د قوماندانی پر مهال له هند سره څو ځله ځمکنۍ او هوایي نښتې رامنځ ته شوي چې تر ټولو مهمه یې د ۲۰۱۹ز. کال د فبرورۍ ۲۶-۲۷ نېټه، د هوایي ځواکونو مخامخ نښته وه. چې نښته **(د بالا کوټ بحران)** په نوم یادیږي. دا نښته له دې کبله رامنځ ته شو چې د ۲۰۱۹ز. کال د فبرورۍ پر ۱۴مه نېټه، د هند تر ولکې لاندې کشمیر، د (پلوامه) سیمه کې د هند پر پوځي کاروان یو ځانمرګی برید وشو چې **۴۰ تنه هندي عسکر یې ووژل،** د دې برید مسؤلیت د (جیش محمد) ډلې پر غاړه واخیست. هغه وو چې د فبرورۍ په ۲۶مه، شپې مهال په ۳:۳۰ بجو باندي، د هند دولسو میراج-۲۰۰۰ (Mirage 2000)ډوله جګړه‌بیزو الوتکو د هند او پاکستان ترمنځ له کنټرول کرښې واوښتې او د خیبر پښتونخوا ایالت په بالاکوټ سیمه کې یې بمباري وکړه.[12] راتلونکي ورځ چې د فبرورۍ ۲۷مه وه، د پاکستان هوایي ځواک په غبرګون کې د هند تر ولکې لاندې په کشمیر کې د هندي پوځ ځینې سنګرونه په نښه کړل. کله چې هندي جنګي الوتکې د پاکستاني الوتکو د مخنیوي لپاره پورته شوې، د دواړو هېوادونو ترمنځ هوایي جګړه ونښته. **په دې هوایي جګړه کې پاکستان د هند یوه (مېګ ۲۱**

[12] :https://www.firstpost.com/india/surgical-strike-on-pakistan-exact-target-of-iaf-operation-identified-as-jaba-top-air-force-carried-out-several-hits-around-site-6154391.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**دوله جګړه‌ییزه الوتکه راوغورځوله او د هغې پیلوټ یې ژوندی ونیوه.** هند وویل چې د پاکستان یوه F-16الوتکه یې غورځولې ده خو پاکستان دا ادعا ونه منله.
په همدې ورځ د هند د هوایي ځواک یوه Mi-17 چورلکه د خپل پوځ لهخوا په غلطۍ کې پر توغندي وویشتل شوه او نسکوره شوه چې ۶ تنه هندي پوځیان په ووژل شول.[13]
دا تاوتریخوالی وروسته له هغې کم شو چې د مارچ میاشتې په لومړی نیټه، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د ښه نیت د ښکاره کولو او د جګړې د مخنیوي په موخه، نیول شوی هندي پیلوټ هند ته وسپارل شو.

## د جنرال باجوه ستایل او رټل:

په ۲۰۰۳ز. کال کې جنرال باجوه په افریقا کې د پاکستان د وسلهوالو ځواکونو قوماندان ؤ چې د کانګو په ډیموکراټیک جمهوریت کې د ملګرو ملتونو د سولهساتي ماموریت برخه وو. نوموړی په کانګو کې د هند د پوځ د هغه مهال د تورن جنرال **(بیکرم سینګ)** تر قوماندې لاندې د یوې لوا د قوماندان په توګه دنده ترسره کوله، بیکرم سینګ چې وروسته، د ۲۰۱۲تر ۲۰۱۴ز. کال پورې د هند د پوځ ستر درستیز وټاکل شو. **سینګ په کانګو کې د باجوه د فعالیت په اړه وویل چې هغه مسلکي او فوق‌العاده کس ؤ.**[14]

په ۲۰۱۸ز. کال کې باجوه د **Forbes** مجلې، د نړۍ د ځواکمنو کسانو په نوملړ کې ۶۸م ځای خپل کړ. **مجلې هغه د پاکستان تر ټولو ځواکمن شخص بللی ؤ، ویلي یې وو چې هغه ځان د منځګړي او د ډیموکراسۍ د ملاتړي په توګه تثبیت کړی دی.**[15]

د ۲۰۱۸ز. کال په اکتوبر کې د اردن پاچا **(دویم عبدالله)** جنرال باجوه ته د پوځي ورتیا نښان، د پاکستان او اردن هېواد ترمنځ د دفاعي او امنیتي اړیکو د پیاوړتیا او د دوه اړخیزې همکارۍ د زیاتولو په موخه ورکړل.[16]
همدارنګه د سعودي عربستان، عربي اماراتو او د ترکیې هېواد لهخوا هم مختلف مډالونه ورکړل شوي دي.[17]

بلې خوا امریکایانو جنرال باجوه ته د خپلو ډېرو خدمتونو په بدل کې هیڅ ډول مډال ورنه کړ، دا داسې یو کار ؤ، لکه چې متل دی:**(د ګوړو لپاره هندو شو خو ګوړې یې هم ونه خوړې.)**
خو کله چې جنرال باجوه په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۲ز. کلونو کې امریکا ته سفرونه درلودل نو د امریکا دفاع وزارت (پنتاګون) لهخوا یې ډېر لوړ پوځي درناوی وشو.

---

13: https://www.news18.com/news/india/india-pak-tensions-live-iaf-wing-commander-missing-after-mig-21-crash-pakistan-claims-he-is-in-their-custody-says-govt-2049727.html
14: http://timesofindia.indiatimes.com/india/Qamar-Javed-Bajwa-Pakistans-new-army-chief-Implications-for-india/articleshow/55641190.cms?
15: https://www.forbes.com/profile/qamar-javed-bajwa/
16: https://www.arabnews.com/news/the-nation-coas-awarded-jordans-order-of-military-merit-1381861
17:https://tribune.com.pk/story/2371604/army-chief-awarded-order-of-the-union-medal-by-uae


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**په پنټاګون کې د امریکا د دفاع وزیر او د ارکانو د ګډې کمیټې د مشر لهخوا د جنرال باجوه لپاره ځانګړي پوځي مراسم او د ۲۱ توپونو په ډزو سلامي وویل شوه** چې دا د امریکا د حکومت لهخوا د بهرنیو هېوادونو لوړپوړو پوځي مشرانو لپاره یو ځانګړی اعزاز ګڼل کېږي.[18]

عربي هېوادونو ته د پاکستان جنرالان داسې ښکاري لکه نیمه نړۍ چې دوی فتحه کړې وي، جنرال باجوه عربي هېوادونو او ترکیې ته څه داسې خدمت نه دی کړی چې هغه په دې وارزي چې مډالونه دې ورکړل شي، **دا مډالونه یوازې د سیاسي موخو او سیاسي ستاینو لپاره ورکړل شوي دي.**

خو د جنرال باجوه د ستاینو پر ورانډې هغه ډېر غندل شوی او رټل شوی هم دی، پر هغه د بشري حقونو د سرغړونو ډېر تورونه لګول شوي دي، جنرال باجوه په پاکستان کې دوه ځله انتخابي حکومتونه رنګ کړل او له ترهګرو ډلو سره یې اړیکې هم لرلې.»[19] باجوه خپل مخالفین هسې په نه خبره زندانونو ته اچولي او په کلونو کلونو یې بندیان کړی دي.[20] په دې بنسټ، پاکستان داسې یو هېواد دی چې تر ډېره قضاوت او عدالت سرچپه په کې عملي کېږي، ډېری خاینین او فاسد چارواکي، د دې پر ځای چې مجازات شي، ستایل کیږي خو څوک چې ربښتنی خدمت او صداقت کوي هغه ته غدار ویل کیږي.
د پاکستان د اتومي پروګرام (اتومي وسلو) جوړونکی، ډاکټر عبدالقدیر خان په یوه مشهوره وینا کې ویلي وو:**«له پاکستان سره چې څومره وفا کوئ، هغومره به غدار بلل کیږئ خو چې څوک څومره ډېره غداري کوي، دومره به لویه لوپي ورکول کیږي.»**

**همدارنګه د پاکستان لومړۍ وزیرې، بېنظیر بوتو هم ویلي وو: د دې پر ځای چې پاکستاني جنرالان د خپلو ناوړه کړنو له امله مجازات شي، ستایل کیږي.**



(جنرال قمر جاوېد باجوه)

نېټه: ۱۴۰۵/۷/۱۰ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري لیکني په دی لینک کي ولولي.

[18]:https://www.dawn.com/news/1713386
[19]: https://www.dawn.com/news/1696992
[20] https://www.dawn.com/news/1718186



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ